SHARIAT weekly

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کال ۳۰ مه ګڼه پرله پسې (۴۱۰) یکشنبه د۱۴۲۲هـ ق کال د صفر المظفر (۱۲)
د۱۳۸۰هـ ش کال د غويي دمیاشتې (۱۶) د۲۰۰۱ میلادي کال دمۍ (۶)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ځکه چې ! همدا (عدل) دیر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته.

(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذارید.

دیکاولنګ ولسوالي په بشپړه توګه داسلامي امارت تر کنټرول لاندې راغله

باميان – باختر :

دبامیانو ولایت دیکاولنګ ولسوالي په بشپړه توګه دمخالفینو او ملیشو له شتوالي څخه پاکه شوه او دافغانستان داسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې راغله دبامیانو له ولایت نه دافغانستان داسلامي امارت دارډو قطعاتو او جزوتامونو دهغو تصفیوي عملیاتو په بهیر کې چې پرون سهار یې دیکاولنګ ولسوالي له خښخ دغورزبار له سیمې څخه پیل کړي و ددغې ولسوالۍ مرکز او شاوخوا سیمې په بشپړه توګه دملیشو او دمخالفینو له شته والي څخه پاکې کړې او دښمن په وارخطایي سره دیلخاب ولسوالي غرنیو سیمو ته دتیښتې لاره غوره کړه داسلامي اردو دمجاهدینو ددغو بریالیو عملیاتو په بهیر کې ملیشو ته درانده زیانونه اوزیات مالي تاوانونه واوښتل او دښمن دخپلو افرادو دلسګونو مړو او ټپیانو په پرېښودو سره دیکاولنګ ولسوالۍ څخه تیښته ښدلې دي. داسلامي امارت دارډو دقطعاتو او جزوتامونو تصفیوي عملیات په منظم ډول ترسره شول چې په نتیجه

ص ۴

په غورکې :

دلهډ له وسله والو مخالفینو داسلامي امارت تګلاره ومنله

راغلو قوماندانانو داسلامي امارت له پالیسي سره غوښ ملاتړ څرګند کړ

داسلامي امارت مسوولین ټولو راتلونکوته په ورین تندي هرکلي وايي

کابل باختر

دمخالفینو اته تنه قوماندانان دخپلو درې سوه تنو وسله والو افرادو په ګډون په دې وروستیو وختونو کې دغوروولایت په مربوطاتو کې دافغانستان داسلامي امارت داردو دقطعاتو او جزوتامونو له مجاهدینو سره یو ځای شویدي. دغوروولایت دمرکز چغچران له ښارنه دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ محترم رئیس عبدالسلام محترم قوماندان ملاکرام الدین، محترم قوماندان ارباب دین محمد محترم قوماندان خلیفه غلام حسن محترم قوماندان محمد ګل او محترم قوماندان محمود عمر چې په دې وروستیو وختونو کې دخپلو درې سوه تنو وسله والو افرادو په ګډون دغور په ولایت کې داسلامي امارت

۴ مخ

دشمال زون ملکي او نظامي چارواکو ګډه غونډه وکړه

کابل باختر :

دشمال زون داړوندو ولایتونو دملکي او نظامي چارواکو پراخه غونډه جوړه شوه په دې غونډه کې چې د ملي دفاع وزارت دلوي درستیز محترم ملامحمد فاضل آخند په مشرۍ او دشمال زون دتنظیمیه رئیس او دبلخ دوالي محترم ملا نورالله نوري دسرپل دوالي محترم مولوي عبدالمنان حقیار دجوزجان دوالي محترم ملا محب الله آخند زاده محترم مولوي امین الله دسمنګانو دفرقې دقوماندان محترم ملا

۴ مخ

دماشوم دروغتیا روغتون دنوي ودانۍ کار پیل شو

کابل باختر :

دماشوم دروغتیا دروغتون دنوي ودانۍ دجوړولو کار چې نیمګړي پاتې و پرون پیل شو ددغه روغتون دجوړولو کار چې دفوائدعامې وزارت دکور جوړولو

۴ مخ

دارواښاد مولوي محمد موسې « کرم پور » په جنازه کې زرګونو تنو ګډون وکړ

کابل باختر

دارواښاد مولوي محمد موسې کرم پور جنازه دزرګونو تنو په ګډون دجنازې دلمانځه له اداکولو وروسته پرون دخواجه عبدالله انصاري زیارت ته څېرمه دخاصو مراسمو په ترڅ کې خاورو ته وسپارل شو. دارواښاد دجنازې دودولو په مراسموکې دشمال لویدیځ زون تنظیمیه رئیس او

۴ مخ

دربلخمري :

با بیجاشده گان مساعدت صورت گرفت

کابل باختر :

یک اندازه مواد امدادي دیروز براي بیجاشد گان که در شهر پلخمري ولایت بغلان به سرمیبرند توزیع گردید مواد مذکور

ص ۴

درولایت غزني یک نفر قاتل دستگیر گردید

کابل باختر

یک نفر قاتل دیروز توسط موظفین امنیتي ولایت غزني دستگیر به پنجه قانون سپرده شد اسامي ګلاب مسکونه ولسوالي اندړ ولایت غزني اسامي دولت خان مسکونه ولایت خوست را که دعواي حقوقي بین شان وجود

ص ۴

محمدخاتمي:

اصلاحات رادنبال خواهم کرد

رادیو تهران باختر:

محمد خاتمي رئیس جمهور ایران میګوید اګر در انتخابات ریاست جمهوري ماه آینده آنکشور پیروز ګردد به مشي اصلاحات خود ادامه خواهد داد وي ضمناً گفت که ایران براي دموکراسي بهاي سنګیني پرداخته است نامبرده چهار سال قبل در انتخابات ریاست جمهوري بر رقیب محافظه کارش پیروز ګردیده بود انتظار میرود درانتخابات ماه آینده نیز پیروز ګردد.

دپوهنې وزارت پرېکړې په پېښور کې افغاني مهاجروته بیان شوې

کابل باختر-:

دمدرسو تعلیمي نصاب او دپوهنې وزارت دمرکزي اداراو دهیواد دولایتونو دپوهنې درئیسانو دسیمینار پرېکړې پرون دهغې غونډې په ترڅ کې چې دپېښور په ښارکې دافغانستان داسلامي امارت دقونسلګرۍ دکنفرانس په سالون کې جوړه شوې وه دپاکستان داسلامي جمهوریت په صوبه سرحد کې دمیشتو افغاني مهاجرینو دمدرسو مدیرانو ته بیان

۴مخ

یاسرعرفات وارد مصر گردید

منابع خبري جهان :

یاسرعرفات رئیس اداره خود مختار فلسطین دیروز جهت انجام مذاکرات با مقامات مصر وارد آن کشور ګردید رئیس اداره خود مختارفلسطین پس از ورود به قاهره با عمر وموسي وزیر خارجه مصر ملاقات ومذاکرتي را انجام داد مذاکرات طرفین به آخرین تحولات در شرق میانه متمرکز ګردید قراربود یاسرعرفات دیروز با حسني مبارک رئیس جمهور مصر درشهر شرم الشیخ آن کشور ملاقات ومذاکرتي را انجام دهد

جهان

ورزش

ص ۳

کمیسیون تحقیق بین المللي :

پروژه هاي ساختماني یهودیان باید مسدودگردد

منابع خبري جهان :

کمیسیون تحقیق بین المللي که وظیفه آن بررسي برخورد ها میان مجاهدین فلسطین واشغالګران صهیونست است خواستارتوقف تمام پروژه هاي ساختماني واحدات منازل مسکوني براي یهودیان درمناطق اشغالي شده است پیش نویس ګزارش کمیسیون مذکور که ریاست آنرا جورج میشل یک امریکایي به عهده دارد افشا نشده است اما ګفته میشود که درآن هشدارداده شده اګر کلیه پروژه هاي اعمار منازل مسکوني براي یهودیان درساحل غربي ونوار غزه متوقف نګردد

ص ۴

په چیچن کې روسي پوځ په ناکامۍ دی

منابع خبري جهان – باختر

دقفقاز ناآرامې سیمې ته دروسیې ددریو تنو لوړرتبه مامورینو سفر بریښنده کړه چې روسي پوځونو لخوا دچیچن داشغال پرخلاف سخت محاذ الفت دوام لري دراسیدلو خبرونو له مخې دغو دریو تنو له برغلګرو پوځونو څخه غوښتي دي چې دچیچن مبارزینو پرخلاف خپل

۴ مخ

اشغال گران درفلسطین زمین هاي زراعتي را ازبین مي برند

به ګزارش منابع خبري بین المللي بولدوزر هاي رژیم صهیونستي باحمایت تانکهاي اردوي آن رژیم دیروز به شهرخان یونس هجوم بردند هدف ازنفوذ بولدوزر هاي صهیونستي به شهرخان یونس ازبین بردن صدها هکتار زمین زراعتي

ص ۴

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

دهرات وروستي پېښه او پردي څرګندلاسونه

دتېرې جمعې په ورځ په هرات کې بې چاودنه دیو شمیر بې ګناه لمونځ کوونکو دشهادت لامل وګرځیده چې ښايي له ډیرې مودې راهیسې په هرات کې تر ټولو ناوړه حادثه وي او دانه یوازې په دې چې ځینې ګناه کسان پکې ووژل شول، بلکې له دې کبله چې اصلاً دیرېد موخه یو ایراني مهاجر سني ملا «محمد موسی اکرم پوري» و، نوموړی په مشهد کې د «شیخ فیض» دجامع جومات امام و او وروسته له هغه چې ځوکاله وړاندې دافراطي

۲ مخ

یتمنو او مېرنیو هیوادوالو ! راځئ دخپل وران وېجاړ هیواد دبیا رغونې، سمورتیا او ښېرازۍ لپاره سره یوموټې او متحد شو

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
د یوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان ټیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع او شکایات : ۶۲۸۵۹
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ : د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

شیعیانو له خوا دغه جومات وران کړي شو ، افغانستان ته راوتښتېد داچي نوموړي پوځل مخکي هم دبوه وژونکي برېدنښه شوي او د«شیخ فیض » دجومات له کشالي سره بي تړاو درلودنو په یقیني ډول اوسني پېښه هم دایران دهماغو او ړېکو افراطي ډلو کاردي چي ان لاپه بهرکي دخپلو مخالفینو دفزیکي موجودیت ختمول غواړي خوهېڅکله هم دي ته پام نه کوي چي داډ ول اعمال په اسلامي نړۍ کي دسني - شیعه اختلافاتو ځومره زیاتولي شيږ ددغوشد ت پاله عناصر وله لاسه به خپله ایراني ولس هم ډېر ستومانه شوي وي خو هغه څه چي په موږ پوري اړه لري دادي چي دهرات پېښه په بو داسي مهال ترسره شوه چي دایران یو پلاوي تازه دهرات له دوري بېرته ستون شوي او ددواړو هیواد و دبهرنیو چارو وزارتو نو دلو ړ پوړ ومقاماتو دلېدني کتني او اړ یکو دسمون لپاره یې ازرښتمن گامونه اخیستي و چي ښایي په همد ي روانه اووني کي ترسره شوي واي په داسي حال کي چي دایران یو شمېر مشران له افغانستان سره داړیکو دسمون پلویان او عملاً پرمخ ځي دجنجال جوړوونکي لوري داډول هڅي خامخا روان بهیراغېزمن کولاي شي له پېښي سره سم چي دهرات سوله خو بوونکو استو گنو په دي اړه کوم تریخ عکس العمل وښود دبهرني غرضي لاس دثبوت یو مهم دلیل دي ځکه د دهرات خلک ایراني پولي ته نېږدي او په ښه توگه دکشالي ښنتو نه ځیرلاي شي اوله همدي امله یو شمېر مظاهره کوونکي په ډېره چټکي دایران په قونسلگري وروختل او که دامنیتي چارواکو سېرانه اوزوورتیا نه واي ، ښایي دو مزاردپېښي په شان بوه لو یه ستونزه تري جوړه شوي واي خو په هرصورت پلټني رواني دي او ډېر ژربه د پېښي مجرمین وپېژندل شي موږپه دي افسوس کوو چي ولي افغان مظلوم ولس دخپلو گاونډیو ددغه راز تېري کوونکي پالیسي قرباني او هیڅ یې هیڅه یې دکړولو او ځورولپاره پلانونه جوړیږي په داسي حال کي چي دافغانستان اسلامي امارت ددغي پېښي دعاملینو غندنه او دشیخ محمدموسي اکرم پوري په گډون دنورو قربانیانو له پلوه خپله ژوره خواشیني ځرگند وي ، یو ځل بیا ددي خبري پخلي کوي چي موږ له ټولو گاوند یا نو سره دبهو اړیکو غوښتونکي او په سوله سلامتیا نېهوالو سره ژوند کولو غواړونو پهکار ده چي گاوندي هیوادونه هم زموږ دخوږوني او خواشیني په ځای دنیکي او ښېگړي لاري ونیسي او له هغو اقداماتو ډډه وکړي چي دتاوتر بخوالي او دښمني سبب گرځي .والسلام

هیواد ژغورنه که ورورژنه ؟

همدا زموږ ورونه افغانان بې بوله چي دخداي په غضب ککړ ، له خپله دینه منحرف او په رډه رنیا ړ ځ بې خپل گران هیواد په روسانو خرڅ کړ دهغوي دخوشالي لپاره یې خپل هیواد وال ووژل وشړل او کورونه یې ورته وران کړل بیا دهمدي ایماندارو مېړني ولس بچیانو دخپل جهاد او سربښندني په برکت همدغه وطن پلورونکي افغانان او دهغوي روسي باداران یو ځاي له هیواده وشړل او تغربي ورتول کړ که څه هم په دغه مقاومت کي په ټریوالة توگه زموږ ملاتړ شو او داسلامي نړۍ یو شمېر مجاهدینو لکه عربو او نورو خو عملاً له موږ سره اوږه په اوږه جهاد وکړ او سرونه یې ځار کړل خو ځرنگه چي داد ټول افغان ولس مشترکه داعیه او گډه هیله وه نو ځکه دغه مهال مجاهدینو ته هېڅوک هم پردي گوډ اگیان او نوکران نه شي ویلاي مگر کله چي دروسانو په وتلو او کمونست رژیم په رانسکورېدلو د ولس لویه او عمده غوښتنه ترسره د قدرت گټیلو لو یه پو ځو کسانو ته وربانۍ او ډېرو بهرنیو خواوهم غرضي لاسونه راوغځول نو ځرگنده ده چي دجگړ مارو خواو نوکري او گوډ اگیتوب بیا سه ثابت او حقیقت جوړ د دې

جې هیواد عملاً تجزیه او په خو برخو ووېشل شو چي هره برخه یې هم په یوې بهرني خواپوري تړل شوې وه دي بدمرغي دهیواد خواخوږي سخت ناهیلي کړل ، ځکه دغو نوکرو ډلو دافغانستان تاریخ کنسور وبا رونه شننې او هر څه ویلورل او رښتیا خبره خوداده چي نورنو دافغانستان په نامه کوم یوموټي هیواد ځرگند موجودیت نه درلود ، خراسان ،ترکستان او هزارستان هر یوه ځانته بېل بېل پاچاهان درلود ل پردې الوتکي ، اسلحې ، پوځي مرستي او هر څه په دهغا غواړونو او اکمنانو په خو ټیه ټلل راتلل او افغان دښمنو خواو دخوشالي په گرمه میله جوړه کړي وه هغه نوبیخي ځانته ورځي وي چي ښاني دهیواد مخلص بچیان او خواخوږي افغانان به بې ټره بوره زمانو له یاده ونه باسي دنهیلي په همدغه مرحله کي دهیواد یو شمېر مخلص او مومن بچیان دطالبانو اسلامي تحریک په شکل چي بشپړ او عام ولسي ملاتړ ورسره و راپورته او په لږ وخت کي یې

فاروق

دهیواد له (۹۰٪) برخې دغه ډېره یو ځالي رنگی او بهرني نوکران یې په تښتېدو اړکړل چي داد ي اوس بوازي په پنجشیر او بدخشان کي سره راټول شوي او لاهم ډېرد یو په پیسو ، وسلو او سیاسي ملاتړ داسلامي امارت په وړاندې مقاومت کوي نواوس خبره داده چي دوي رښتیاهم دهمدي هیواد استوگن او زموږ افغان هیوادوال دي خو لکه ځرنگه چي نورمحمد ترکي امین او نور په روسانو پوري تړلي او دهغوي مزدوران بلل کېدل دوي هم پاکل همداغسي بهرني گوډ اگیان دي چي ټولي هلي ځلي یې د پردیو گټو لپاره دي او هېڅکله نه شي کېداي چي له هغوي سره څه توپیر ولري له بلي خواد اسلام او عقیدي په چوکاټ کي دوي هم په ښکاره داسي خبري کړي دي چي له پخوانیو کمونیستانو لاربات بد ترحالت ته رسېدلاي شي او داخبري یې تریوالو اژانسونو هم ښي په تکرار سره خبري کړي دي چي کوم شک شبهه او تردید یې هم نه شي کېداي مثلاً د دوي په اصطلاح

ستر مشر مسعود وویل : دلته د دیموکراسي او افراطي اسلام ترمنځ جگړه روانه ده » او معلومه ده چي نن سبا خو دنړیوالو په ژبه افراطي اسلام خالص او سوچه اسلام ته ویل کېږي بالکه ددوي مشر استاخي «روان فرهادي »چي وویل : «موږ هغه اسلام نه غواړو چي زموږ له کلتور او ثقافت سره ټکر ولري ا» خو په هر صورت دوي او خداي یې چي ژاړي مگر یو شي چي هر افغان ته باید ډېر مهم او ارزښتمن وي ، هغه دهیواد بقا

سلامتي او خپلواکي ده ، هغه چي په بشپړه توگه له منځه تللي او هیواد عملاًتجزیه او په پردیو وېشل شوي و خو دالله په فضل او احسان دطالبانو داسلامي تحریک په قربانیو دتجزیي هغه خطرناک پلانونه ډړي ډړي شول او هیڅوک هم له دي انکارنه شي کولاي چي افغانستان اصلاً له نوي سره یو بیا موټی شوی هیواد دي اوس نو دا علیما و لیکوالانو او نورو خواخوږو هیوادوالو په اغ پوري اړه لري چي دطالبانو دغه جگړه

ورورو ژنه او که هیواد ژغورنه بولي له بلي خوا اسلامي امارت هم دادعوانه کوي چي په دي نظام کي هیڅ کومه وړه نیمگړتیا نشته وي په دلته به دژوند او اداري ډېري ستونزي دي خو هر سړي باید لږ شاو خوا حالاتو ، جگړي او دپردیو دي پراخولاس وهلو ته هم وگوري دهیواد رښتیني خواخوږي ډېر په پوهیږي چي په او سنیو حالاتو کي دخپلو دیموکراتیکو حقوقو په پلمه داسلامي امارت مخالفت کول اصلاً دافغانستان مخالفت کول او داسلامي امارت نه غوښتل دافغانستان دنه غوښتلو په مانا دي زموږ ټولي ملي گټي په همدي کي خوندي دي چي باید **داوس لپاره دامارت ملاتړ او دبهرنیو لاسونه غوڅ شي کله چي تېل شوي جگړه پاي ته** ورسېده له هیواد د سوبړدي لاس وحشي بندي او **ښه پوخ دبوال موتري چاپېرکي بیاهم همدغه افغان ولس موجوددي او کولاي شي چي خپله اداره لاهم پیاوړي او په حکومت کي نورزیات نظم او سمون راولي خواوس مهمه داده چي دهیواد ژغورني روانه جگړه پاي ته ورسیږي .**

دحضرت عمر «رض» گزمه

د مسلمانانو دفخر او ویاړ نښانه امیرالمؤمنین حضرت عمر «رض» درعیت دخدمت لپاره ملاتړ و ړه او ورځي دخدمت او منبو تړ ړه یې بشه دشپي په وخت کي یې هم گزمه کوله یو ځل دښار په یوه سیمه تېرېده چي سترگي یې په یوه خیمه ولگېدلې حضرت عمر «رض» نږدې ورغی گوري چي دخیمي مخي ته یو سړی ناست دی اوله دننه یې یو دردوهلي غږراځي حضرت عمر «رض» په سړي باندي سلام واچاوه او بیا یې تري دحال پوښتنه وکړه سړي وویل زه له اطراف نه راغلی مسافریم او غواړم چي امیرالمومنین ته خپل ضرورت وړاندي کړم حضرت عمر «رض» تري پوښتنه وکړه چي داله خیمي نه دردونکي غږ څنگه راځي ؟ سړي ورته وویل ددي پوښتنه مه کوه خو عمر «رض» اصرار وکړ چي خامخا راته ووایه داڅه تکلیف دي سړي مجبور شو او وي ویل په کډه مې دولادت دردونه لگېدلي دي او دویمه ښځه ورسره دخدمت دایي توب لپاره نشته حضرت عمر «رض» دسړي دځنگ نه پاڅېداو کورته راغی خپلې بي بي حضرت ام کلثوم «رض» ته یې وویل چي الله پاک ستالپاره ډېر دثواب کار پیدا کړي دي حضرت ام کلثوم «رض» پوښتنه وکړه څه کاردي حضرت عمر «رض» ورته وویل یوې مسافري ښځي باندي دولادت دردلگېدلي او دویمه ښځه ورسره نشته حضرت ام کلثوم «رض»

وویل که ستا خوښه وي نوزه تیاره یم حضرت عمر «رض» وفرمایل دولادت دپاره څه اسباب دپاره چي دکومو شیانو ضرورت وي دځان سره یې راواخله هغې «رض» دخوراک او دضرورت وړ شیان دځان سره راواخستل او خپل خاوند سره لاړه هغه رضي الله تعالي عنها دمسافري ښځي په خدمت کي بوخته شوه او حضرت عمر «رض» خیمي ته دباندي او بیل کړاو دحلو ایه پخولو یې پیل وکړ په دي وخت کي حضرت ام کلثوم «رض» غږوکړ اې امیرالمومنین ! خپل دوست ته دهلک دپیدا کېدو زیري ورکړه دامیرالمومنین لفظ چي کله دسړي په غوږکي ولگېد نو سړي ډېر وارخطا شو حضرت عمر «رض» ورته وفرمایل وارخطا کېدو خبره نه ده ستاسو په ما باندي حق دي په دي وخت کي حلوا تیاره شوه حضرت عمر «رض» خیمې په خوله کي کېښود ه حضرت ام کلثوم «رض» ته یې غږ وکړ چي داحلوه په دي ښځه باندي وخوره حضرت ام کلثوم «رض» په ښځي باندي وخوړه او څه چي په کټوي کي پاتي شوه هغه یې بېرته حضرت عمر «رض» ته ورکړه حضرت عمر «رض» مسافر سړي ته وفرمایل چي واخله ته یې هم وخوره ټوله شپه دي په ویښه تېره کړي ده بیا امیر

المؤمنین خپله بي بي دځان سره کړه او خپل کورته روان شو او مسافرته یې وفرمایل سبا ته راشه ستا لپاره په انتظام وکړي شي دحضرت عمر «رض» خپل غلام حضرت اسلم «رض» وایي چي زه یوواري دحضرت عمر «رض» سره دحره طرف ته لاړم لرې په ځنگل کي بیل شوي او رڼا ولیده حضرت عمر «رض» راته وفرمایل چي اې اسلمه کیدي شي داڅه قافله یا کاروان وي چي دشپې په وجه ښارته نه وي رسیدلی او په لارکي پاتي شوي وي څه چي ورشو دخیریت خبري واخلو او دشپې دحفاظت انتظام به یې هم وکړو زه او حضرت عمر «رض» هلته لاړو گورو چي یوه ښځه او ځوماشومان دي او ماشومان ژاړي او چغي وهي ښځي یوه دېگی له اوبونه ډک داوړ په نغري ، ایښي حضرت عمر «رض» پري سلام واچاو او دنږدي ورتلو اجازه یې تري واخیسته ورغی او پوښتنه یې تري وکړه چي په دي دیگی کي څه شي دي ؟ ښځي وویل دلوږي نه یې وسه شوي ځکه ژاړي حضرت عمر«رض» بیا پوښتنه وکړه چي په دي دیگی کي څه شي دي ؟ ښځي وویل داوبو نه مې ډک کړي او

غلام

دماشومانو دخوشحالولو لپاره مې په اوربالدي ایښي دي چي تسلي یې وشي او ویده شي امیرالمؤمنین حضرت عمر «رض» اوزما په دالله تعالي په مخکي فیصله کېږي چي زموږ دحالاتو نه ځان نه خبروي په دي وخت کي ښځه پدي پوه نه وه چي داپخپله حضرت عمر «رض» دي دښځي پدي خبرو سره حضرت عمر «رض» په ژړا شو او داسي یې وفرمایل الله تعالی دي په تا رحم وکړي عمر «رض» ستاد حاله څه خبردي ښځي وویل هغه زموږ امیر مقررشوي دي او زموږ دحاله ځان نه خبروي غلام حضرت اسلم «رض» وایي چي زه حضرت عمر «رض» دځان سره بېرته راوستم او په یو د بوري کي یې دبیت المال نه څه اندازه اوړه غوړي خرما دجامو دپاره ټوټه او څه روپی راواخستي بوري یې ښه دکه کړه او ماته یې وفرمایل چي داماته پشاکه حضرت اسلم «رض» وایي چي ما عمر «رض» ته دوه ځله وویل چي زه به یې یوسم خو حضرت عمر «رض» وفرمایل چي ایا دقیامت په ورځ به هم ته زما بار وړي ؟ دابه حتمي زه وړم ځکه چي په قیامت کي

دي پوښتنه له مانه کېږي غلام حضرت اسلم «رض» وایي زه مجبور شوم او بوري مې دحضرت عمر «رض» په ملاکېښوده او ډېر په تندي دماشومانو ځاي ته روان شو هلته چي ورسېدو حضرت عمر «رض» په خپله په دېگي کي څه اوړه څه غوړي او څه خرما ، واچول او په نغري باندي یې کېښود او خپله یې اوربل کړ حضرت اسلم «رض» وایي چي ده پخپل مبارک لاس شېره غوندي تیاره کړه او ماشومانو یې پري ښه ماړه کړل دمړېدو نه وروسته په خندا اولوبو کي مشغول شول او پاتي شېره یې ښځي ته دبل وخت دپاره حواله کړه ښځه ډېره خوشحاله شوه او وي ویل الله تعالی دي تانه دخیر بدله درکړي ته ددي حقدار یې چي دحضرت عمر «رض» په ځاي خلیفه مقررشوي واي حضرت عمر «رض» هغې ته تسلي ورکړه اوورته یې وفرمایل چي کله ته خلیفه ته ورځې نوما به هم هلته وگوري حضرت عمر «رض» دهغه ځاي نه لږ رادېخوا شو او په ځمکه ورته کېناست دلږوخته ناستي نه وروسته روان شو او داسي یې وفرمایل چي زه ځکه کېناستم چي ماداماشومان په ژړا لیدلي و زما زړه وغوښتل چي لږ وخت دپاره دایې خندا هم ووینم .

جهان ورزش

تحت نظر : استاد آرین خیبر

درولایت ننگرهار مسابقات تکواندو تدویر یافت

مسابقات تکواندو به اساس پلان جنتري وپروگرام مرتبه آمریت ورزشي ولایت ننگرهار چندي قبل تدویر یافت . بعد از ختم مسابقات ۲٤ تن به عنوان تیم منتخبه ولایت ننگرهار شناخته شدند .استاد امین الله رزمنده معاون انجمن تکواندوي جیدوکوان افغانستان قهرمان وزن پنجم و عضو تیم ملي تکواندوي کشور توانست بعد از رقابت هاي زیاد حائز مقام قهرماني در سطح ولایت ننگرهار نیز گردد .

بریالي خیبر(جیدوکوان)

ره‌آوردي ازتکواندوي هرات

علاقمندان محترم ورزش ! دربي گزارشات ورزشي مان ازولایات مختلف کشور اینبارگزارشگرما گزارش راازولایت هرات تهیه دیده که یکجا به خوانش میگیریم : درشمارکلپهاي ولایت هرات انجمن ورزشي تکواندوکاران «فرخنده»به مثابه یك انجمن برجسته ورزشهاي رزمي به حساب میآید .

تعدادزیادي ازجوانان باکمربندهاي مختلف بانظم خاص ورزشي توجه هربیننده را به خود جلب مي نمود استاد ومسول کلپ متذکره باقد متوسط واندام زیباي ورزشي مارابه نشستن دعوت کردند بعد ازتعارفات معمولي خود را چنین معرفي نمودند اسم من فضل الرحمن فرزند غلام حیدر مسول انجمن تکواندوکاران فرخنده میباشم .

سوال : لطفاً درمورد سابقه ورزشي تان معلومات ارائه نمایید ؟

جواب نظر به شوق وعلاقه فروان که به ورزش تکواندو داشتم تمرینات خودرا تحت نظر استاد خلیل الله فرخنده در سال ۱۳٦۹ آغاز نمودم وبعداز زحمت کشیهاي فراوان وعراق ریزي هاي پیگیر ،تشویق خانواده ودوستان واستفاده ازرهنمایي هاي استادم توانستم درسال ۱۳۷۵ هجري شمسي به اخذ کمربند سیاه نایل آیم .

سوال : تاحال درچند مسابقه اشتراك نموده اید .ونتایج حاصله تان چیست ؟ جواب قسمیکه به همه هوید است تکواندو ولایت هرات نظر به مشکلات وپرابلم ها ازچندین سال به این سو به حال خود باقیست یعني کدام پیش رفت ودگرگوني در آن به ملاحظه نمیرسد ومسابقات تکواندو نیز به ندرت درآن دایر میگرددبنا؛ نظر به قلت مسابقات در چهار مسابقه اشتراك نمودم وبیش ازچهار سال است که قهرمان وزن سوم در ولایت هرات میباشم دست آورد هاي ورزشیم برعلاوه دیپلوم وتحسین نامه هاي معتبر ، برنده مدال طلا درسطح ولایت هرات میباشد

سوال : ازآغازفعالیت تربنري خویش تاکنون چند تن شاگرد تربیه نموده اید .ممتاز ترین آنهارا نام بگیرید ؟

جواب : من در مدت پنج سال عرق‌ریزي دررشته تکواندو به تعداد ۳۰۰ شاگرد را که هرکدام به نوبه خود پیش رفت قابل ملاحظه را ازخود نشان داده اند تربیه نموده ام ممتازترین ایشان قرار ذیل اند : فهیم ،رضاي چیني ،ادریس ، شریف ، شاهپور، منیر، سید جمال ،فریدون ، ابراهیم ، محفوظ، نادر ، فرید، الیاس، طارق،جاوید ، فرهاد ، همایون ، حبیب الرحمن ، خالد، تمیم، ودیگران این کساني اند که هرآن بنام شان فخر میکنند .

سوال : به حیث یك تربنر ومربي تکواندو به مقام ریاست عمومي کمیته ملي المپیك خاصتاً فدراسیون تکواندو چي پیشنهاد دارید ؟

جواب :ولایت هرات یکي از ولایات باستاني کشورماست که درطول تاریخ نوابغ برجسته یي را درعرصه هاي علم وفرهنگ از خود به جا مانده است اما به کمیته ملي المپیك وخاصتاً ریاست فدارسیون تکواندوي ولایت هرات به عنوان مرجع معتبر ورهبري کننده ورزش احوال گیري نه کرده ودرمورد مشکلات وپرابلم هاي ما کمتر احساس مسولیت میکنند .من به نوبه خود ازمقام ریاست فدراسیون تکواندوخواهشمندم تادرترکیب یك هیأت متشکل از استادان مجرب وورزیده تکواندو به ولایت هرات تشریف آورده تکنیك وتکتیك جدید تکواندو را براي ما تدریس نمایند درحالي که جنگ سرد میان سبك هاي ITF وWTF به حدآخر آن رسیده است درهموار ساختن این مشکلات وپرابلم ها مارا یاري دهند بیشك که مایه سرور وخرسندي براي همه ورزشکاران تکواندوکاران هرات خواهد بود.

دوتن از فوتبالران ما به احرازمعاونیت حکم هاي بین المللي نایل آمدند

به اساس پیشنهاد کمیته ملي المپیك وفدراسیون فوتبال کشور به فدراسیون انتلی فوتبال FIFA دو تن از فوتبالران سابقه دار هر یك محترم علي جواد عطایي منشي فدراسیون فوتبال و بصیر احمد قریشي منشي فدراسیون فوتبال کشور به حیث معاونین حکم هاي بین المللي فوتبال نایل آمدند . کارت هاي حکمیت موصوفین چندي قبل از طرف فدراسیون بین المللي فوتبال FIFA به کشور کسیل وطي جلسه به اشتراك هیئت رهبري کمیته ملي المپیك و فدراسیون فوتبال کشور توسط استاد محمد خالد مطمئن سکرتر جنرال کمیته ملي المپیك براي استادان متذکره توزیع گردید .

یکتن ازورزشکاران بوکس ماسترسپورت شد

یکتن از ورزشکاران بوکس استاد عبدالرزاق سنگ شکن مسئول کلپ ورزشي بوکسنگ افتخار که تحت نظر استاد عبدالمعروف رغبت فعالیت مینمایدبعد ازطي مراحل قانوني بدرجه ماسترسپورتي نایل آمد . استاد رزاق در بیش از ۵۱ مسابقه داخلي و خارجي اشتراك نموده و بعد از طي مراحلي قانوني ماستر سپورتي از طرف کمیته ملي المپیك افغانستان به حیث ماستر سپورت شناخته شدند . استاد ماستر سپورتي موصوف چندي قبل طي جلسه که در آن اهل خبره ورزش وهیات رهبري کمیته ملي المپیك وفدراسیون بوکسنگ شرکت داشتند توسط استاد خالد سکرتر جنرال کمیته ملي المپیك توزیع گردید .

اطلاعیه فدراسیون تکواندوي افغانستان

به اطلاع تمام مسولین کلپ هاي آزاد وموسسات رسمي تکواندو رسانیده میشود که قرار است سیمینار حکمیت جهت تربیه رفري ها وجع کارنر ها براي مسابقات نوجوانان تکواندو به تاریخ ۲۵ ثور سال جاري ساعت ۹ بجه قبل ازظهر درلیسه استقلال دایر گرددبنا؛ به اطلاع تمام حکم هاي تیم هاي ملي وکسانیکه خواهش شمولیت را دراین سیمینار داشته باشند رسانیده میشود که به تاریخ متذکره به آدرس مذکور تشریف بیاورند همچنان قرار است مسابقات انتخاباتي تیم نوجوانان تکواندو به تاریخ اول جوزا سال جاري دایر گردد. بدین ملحوظ کلپ هاي که درفدراسیون تکواندو ثبت وراجستر نه شده اند هرچه زودتر جهت تصفیه حسابات وثبت وراجستر به کمیته ملي المپیك مراجعه نمایند ورنه بعداً حق شکایت را نخواهند داشت .

پشت بازو هاي عضله یي وبزرگ راهنمایي براي پیشرفت شما

شکل خوب تمرین کلید موفقیت

غلام سعید وردگ

شکل درست حرکت براي پشت بازویك امر حتمي است ما نباید مجبور شویم که این قضیه را براي وزنه برداران باتجربه مورد بحث وبررسي قرار دهیم . اگر ازشکل مشخص ومعین استفاده نکنیدقادر نخواهید بود عضله پشت بازورا تفکیك کنید وبه جاي آن سر عضله یي که مورد نظر نیست ویا عضله یي (دلتوئید) کار خواهد کرد ونه آن قسمت که مورد نظر شما بوده است براي مثال اگر شما در سربیروني این عضله پیشرفتي حاصل نمي کنید ،علت این است که بیشترین فعالیت را درحین انجام تمرینات . سرهاي جلوي وعقبي متحمل شده اند بدون پرورش موزون ویکنواخت هر سه سر پشت بازو شما هرگز کامل نه شده وشکل خوبي به خود نخواهدگرفت شکل خوب تمرین وتفکیك مناسب عضله مکمل یك دیگر اند در بسیاري ازمواقع بدن سازانیکه پیشرفت ضعیف در عضله پشت بازو دارند به هنگام تمرین بروي آنها نیز عضله داراي یك نوع حساس است که گویي زماني سختي را پشت سر میگذارد موقع تمرین بایداحساس کنیدکه عضله درگیر کارشده است نه این که فقط حرکت را بالاوپائین برآن وزنه به اتمام برسانید . ... مبل ودستگاه هاي بدن سازي همه وهمه ابزار پیش نیستند ومانند هرچیزي دیگر میتوان از آنها استفاده درست یا غلط کرد وقتي به عنوان یك بدن ساز پشت بازو را به طور کامل پرورش داده‌ید نه تنهامتوجه میشویدکه میتوانید وزنه هاي بسیار سنگین را بلند کنید بلکه بااضافه نمودن وزن حرکت را نیز افزایش دهید هدف ... صرف ساختن عضله است ...

تعصب وملیت گرایي ازدیدگاه بروسلي بنیان گذار هنررزمي جیت کان دو

خیبر جویا جیدوکوان

تعصب در مورد نژاد ، مذهب ، اصل ونسب یا هنر رزمي شمارا از آزمودن مسیر هاي ممکن حقیقت باز میدارد همان گونه که استاد بروسلي در ... میگوید :(مهم نیست که از کجاآمده است اگر در فراگیري هنررزمي تان یا شما کمك میکند از آن استفاده کنید) با استفاده از راه بروسلي به حقیقت وباشناخت وپرهیز از موانع نه تنها میتوانید از جیت کان دو استفاده کنید بلکه در راه یافتن بزرگ ترین موفقیت در کشف حقیقت خود در مبارزه گام مي بر دارید شما نهایت آزادي دربیان تان تجربه خواهید کرد .

یون لیك

طبیب محمد نذیر «احمدزی»

لوړي او ژوري

۹

زما په خيال كه هر والي صاحب په خپله سيمه كي پر خوارانو او بي وزلو د مشرانو پوره عزت وساتي او له پر گنو سره پرته له توپيره د وروري چلند وكړي په خپلو چارو كي به له هيڅ راز ستونزو سره مخامخ نه شي او كه مخ يې هم شي نو د خلكو ملاتړ ورسره دي نو بريالي به ثابت راوزي .حكيمي صاحب والي صاحب ته د خپل پروگرام په باب معلومات وركړل او هغه ډير خوشاله شو د اندړو د ښوونځي روغتون ليدنه هم زموږ د پروگرام يوه برخه وه . حكيمي صاحب له والي صاحب څخه د موږ سيمي ته د تگ لپاره يو موټر وغوښت ځكه چي زموږ موټر بطري كمزوري وه او په تيله روانيده . والي صاحب ښاروال ته تيلفون وكړ او دهغه موټر يې را وغوښت او حكيمي صاحب د غزني د روغتون د جراحي ځانگي د متخصص محترم ډاكتر حميد خطاب كاكړ په ملتيا اندړو ته روان شو . او نور ملگري مو په ښار كي د روغتون خدمتونو د چارو د څرنگوالي د څېړلو په هكله د غزني په ښاركي پاتې شول . ... نو موږ روغتون ته نژدې شوو ، روغتون ته نژدې په يو پراخه كرښه ځمكه كي ... او اوچته كلا وه چي جلا سرك ورته جوړ شوي و . ډاكتر كاكړ وويل چي دا ... كور دی ، قاري بابا يو وخت د اندړو قوماندان و خو بيا د طالبانو له راتگ سره يې ټيټېدلی و د قاري بابا د بر خليك په اړه مو سره ... په موټر كي ډيره تاوتراو شوه چي د ظلم كاسه آخر نسكوره شوه او هر څوك چي د خپل ولس په خدمت ونكړي او يا په ظلم او زور پر خلكو واكمني وكړي بوه ورځ به ... په شان په مرگ يا په ژوند وركيږي د قاري بابا له بر خليك څخه بايد ... واخلو . د ميري روغتون چي د اندړو د ولسوالي په مركزي سيمه كي د داود خان په وخت كي جوړ شوي او س بيا نوي ودان شوي دي ، اداري څانگي ، جراحي څانگي ، ... د ... څانگي هر يوه جلا جلا ودانۍ درلودې

د روغتون انگړ هم ښه پراخ او د انگړ په يوه برخه كي يو ښه پوخ ... جومات هم د خلكو له لوري جوړ شوي و د روغتون د مسئولينو پوښتنه مو وكړه ... اداري څانگو ودانۍ را وښوده ، د ودانۍ دروازي ته چي ورسيدو و مو ليدل چي د دروازه له شا تړلي وه موږ حيران شو و چي په دې ريا ورځ او رسمي وخت كي دا ولي ... ځكه تړلې ده د دروازه مو وټكوله هيڅا ځواب را نكړ بيا او بيا مو ووهله وروسته ... شيبو د ننه د چا د پښو غږ شو او دروازه پرانستل شوه يوه عجيب سړي سره مخامخ شوو نه پوهيږم چي څه ورته ووايم يو ستر توكي ، ساده او كه پاك او صاف كوچي ... ، برښونه يې ښه پير ، كالي يې له ډيرو خيرو ډډ ولاړ و په داسي كال كي چي سر يې گراو له خندا په د كه خوله يې موږ ته وويل هيڅوك نشته ټول غزني ته دفتر ... حكيمي صاحب ورته وويل چي تا د دروازه ولي تړلي وه دا رسمي وخت گوره او د روغتون د اداري بنده دروازه ، هغه په خندا وويل چي څوك نه وي نو دروازه د څه لپاره ... پريږده زه پيره دار يم دا زما دنده ده . موږ ورته وويل چي مليشانه نه يو او له دي ... سره ور ننوتو د د يوې خونې دروازه پرانستله ښه لوكس د دفتر او د ننه يې يوې بلي خونې ته هم لاره درلوده د غه روغتون اوس د ناروې موسسي چلاوه او ... سمبال و د په خونه كي مخكي ترده چي موږ كښينو عبدالرحمن څوان ... جوكي كښيناست موږ تولو ډير ورته وخندل چي مليشانه موږ ... ته كښيني سره ولاړ شو د ... نو ورته كړه وي ويل خاوري عبدالرحمن ... توكي ښكاريده په فرش يې يي پلنتري ... هلي چي مو په خوله ترينه ... بې توپ ... او وي ويل چي اوس به يې په منډه راوړه حكيمي صاحب ورته وويل چي ... چاي پوري وخت نشته زه به اودس وكړم عبدالرحمن ورته وويل راځه مهرباني ... تياري كړم حكيمي صاحب چي ولاړ شو عبدالرحمن د خوني له دروازي ... ستره فرشي كړ كي پرانيستله له دروازي ښكاريده چي هلته ښه لوكس كوچنۍ جوكي ايښي وي موږ فيال وكړ چي هلته به تشناب وي حكيمي صاحب نو موږ خوني ته ورننوت او عبدالرحمن هم وريسي ور ننوت د عبدالرحمن غږ راته چي ويل يې ... صاحب اداري د دفتر دی حكيمي صاحب ورته وويل چي تشناب هم ... عبدالرحمن وويل چي نه تشناب بهر دی موږ ټولو ډير وخندل او حكيمي صاحب هم په خندا ورته وويل چي دلته دي د څه لپاره راوستم ما خو د تشناب پوښتنه كوله عبدالرحمن له تصوره د كي خولي سره وويل : و د ديره چي زموږ دفتر هم ... او دس نه لا وخت شته عبدالرحمن او حكيمي صاحب بيرته راووتل او عبدالرحمن هغه ته د ... داسه ځاي ورو ښود چاي يې را ور موږ دوو كسو ته يې چاي واچاوه بيا عبدالرحمن خان ته پياله د كه كړه او بره غاړه كښيناست چي گورو ډاكتر صاحب كاكړ يې هم سوي موږ ورته په خندا شوو چي ظالمه ميلمه دي پريښود چاي دي لكه چي ځان ته راوړي . عبدالرحمن له خندا ښه شين شو او ډاكتر صاحب ته يې هم چاي واچاوه ... وروسته د روغتون ډاكتران هم راغلل ډير ښه او نكړه ډاكتران د خطاب صاحب معرفي موږ ته را وپيژندل د جراحي متخصص ښي ډاكتر صاحب نادر چي د ... پخوا يې د ابن سينا په جراحي روغتون كي كار كړی او اوس هلته په خدمت بوخت و . عبدالرحمن د وډي راوړه د ډوډي خوړلو په وخت كي مو ده ته پام شو چي ... ته كوچني دستر خوان غوړولي او د ري قابه يې ځان ته ايښي ... تر ډوډي وروسته مو اودس او لمونځ وكړ او بيا د روغتون په بيلا بيلو څانگو ... خصوصاً د جراحي په څانگه كه ښه ډير كار شوي و د عمليات د خوني ... لسگونو كوچني كوچني كټوري ځوړند او هغه راز راز كوچني او غټي ... د عملياتو نو په ترڅ كي د ناروغانو له پيښتورگو ، حالب ، مثاني او ... له كټوري څخه ويستل شوي وي . د روغتون د لابراتوار ، اكسريز او دواخانې ... ډاكترانو او عبدالرحمن څخه اجازه واخيسته او بيرته د غزني په لور راوخوځيدو نژدې مازديگر د غزني ملكي روغتون ته را ورسيدو د ولايت موټر مو چي رخصت كړ حكيمي صاحب وويل چي كه له والي صاحب څخه خپل موټر ته يوه بطري وغواړو ... ځكه ده . زما هم خوښه وه ځكه چي منزل مو ډير اوږد و خو موټر مو په تيله روانيده موټر چلوونكي ته مو يو كوچنى ليك وركړ او خپل چلوونكي مو هم ورسره ولېږه يو ساعت وروسته مو وليدل چي چلوونكي له يوې نوي غټي بطري سره بيرته راغي چي والي صاحب د حكيمي صاحب د ليك په لوستلو سره په بيړني ډول له بازار څخه پيرودلې وه شپه مو بيا له ملانانې آخند سره تيره كړه ماښام يې بيا ښه شوروا او شرومبې را كړې د خپل ژوند په هكله يې يو څه كيسې هم وكړې هغه د كنډهار د ... ولسوالي يوه مور ماندينه او كوچني ماشوم په كور كي پريښي او اختر كي هم كور ته نه ... وتللي يوه پښه يې هم ټپي شوې وه . د ملانانې آخند كيسې ته په خير سره نور هم راته ثابته شوه چي په دې تحريك او جهاد كي د داسي مظلومانو خو غمرېي ... ونې پهيدلي شاني چي موږ يې قدر وكړو او خداي مكړه په خپلو ... روا غلطو سره د دعوي تربانې او ځېلي ... نه كړو .

پاتي لري

اعلانات

رياست عمومي ميکانيزه زراعتي غرض همکاري بيشتر به دهاقين در پهلوي عرضه خدمات ميکانيزه زرعتي اخيراً باداشتن ماشين هاي عمرن در حفرچاه هاي عميق درمرکز وولايات کشور دربدل اجرت مناسب درخدمت زراعين قراردارد . مشتروبان دهاقين که خواهش کندن کاري چاه عميق را غرض آبياري داشته باشند برياست عمومي ميکانيزه زراعتي واقع بادام باغ مراجعه نمايند .

***

رياست کميته ملي المپيك در سال ۱۴۲۲ براي وسايط خويش مقدارسه هزار ليتر تيل ديزل ومقدار چارهزار وهشتصد ليتر تيل پطرول ضرورت دارد اشخاص وموسساتيکه خواهش رسانيدن آنرا داشته باشند درخواست هاي خويشرا به مديريت خدمات رياست کميته ملي المپيك بسپارند وخود شان از تاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۱ تاده روز مراجعه نمايند تضمين اخذ ميگردد .

***

محمد عظيم فرزند محمد اياز يك باب دکان ملکيت بانك رهني وتعميراتي واقع سينماپامير را ماهانه مبلغ يك مليون ونه صدهزار افغاني براي مدت يکسال بکرايه ميگيرد . مزايده کننده گان درخواست هاي خويشرا به مديريت بانك رهني وتعميراتي بسپارند وخودشان از تاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۱ تاده روز مراجعه نمايند تضمين اخذ ميگردد.

***

محب الله فرزند فاضل کراج موتري امارتي شهرك قصبه را ماهانه مبلغ هفتادو پنجهزارافغاني براي مدت يکسال قرار دادمينمايد مزايده کننده گان درخواست هاي خويش را برياست تصدي خانه سازي بسپارند وخودشان از تاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۱ تاده روز مراجعه نمايند شرطنامه را ملاحظه کرده ميتوانند تضمين اخذ ميگردد.

***

بانيه انجينير محمدرئيس شرکت ساعقه نور هت صد هزار دانه خريطه خالي کودکيمياوي مورد ضرورت تصدي کودوبرق مزار شريف را باسول ده فيصد تاراضافي به طوريلا عوض مطابق شرطنامه في خريطه به مبلغ هجده اعشاريه پنجاه سنت امريکائي قبولدارشده است مناقصه کننده گان درخواست هاي خويشرا به وزارت معادن وصنايع بسپارند وخودشان از تاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۱ تاده روز مراجعه نمايند شرطنامه را ملاحظه کرده ميتوانند تضمين اخذ ميگردد.

***

پنج باب اتاق منزل تعمير نساجي افغاني واقع چوك جاده ميوند بعد از رسم اساسي شرطنامه به کرايه داده ميشود اشخاص وموسساتيکه خواهش کرايه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست هاي خويشرا به مديريت خدمات نساجي افغاني واقع سرك پنج تايمني وات بسپارند وخودشان ازتاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۱ تاده روز مراجعه نمايند شرطنامه را ملاحظه کرده ميتوانند تامينات اخذ ميگردد .

***

يك باب تهکاوي تعمير مربوطه نساجي افغان واقع آبده ميوند که درحدود دوصد متر مربع ميباشد به کرايه داده ميشود اشخاص وموسساتيکه خواهش کرايه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست هاي خويشرا به مديريت خدمات نساجي افغان واقع سرك پنج تايمني مقابل مسجد شريف حاجي محمد داد بسپارند وخودشان ازتاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۱ تاده روز مراجعه نمايند شرطنامه را ملاحظه کرده ميتوانندتامينات اخذميگردد.

***

وزارت مخابرات امارت اسلامي افغانستان به ده پايه ماشين فرانکنگ پستي ضرورت دارد اشخاص وموسسات داخلي وخارجي که خواهش رسانيده کابل ترتيب داده درخواست هاي خويشرا به مديريت تهيه وتدارکات خارجي وزارت مخابرات امارت اسلامي افغانستان ويا به پست بکس ۱۰۷۲ بسپارند وخودشان ازتاريخ ۱۴۲۲/۴/۷ مراجعه نايند .

***

وزارت صحت عامه امور ساختماني يك محراب مسجد شريف را درمرکز وزارت صحت عامه قرارداد مينمايد اشخاص وموسسات ساختماني سکتور خصوصي را جستر شده واجدشرايط که خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست هاي خويشرا طور سربسته برياست ساختماني وزارت صحت عامه بسپارند وخودشان ويا وکيل شان ازتاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۰ تاده روز مراجعه نمايند جواز نامه ملاحظه تضمين اخذميگردد.

***

به اطلاع محمد يوسف وعبدالمجيد ولدان محمد مراد مسکونه قريه صوفي قلعه ولايت سمنگان ميرساند تاغرض فيصله دوسيه نسبتي حويش عليه عبدالغفور فرزند اچادي ازتاريخ ۱۴۲۲/۲/۱۱ تايك ماه برياست محکمه مرافعه سمنگان حاضر شوند درغيران فيصله صادر وانگاه حق شکايت را نخواهند داشت .

په غورکي ...

داردو له مهشتو قطعاتو او جزوتامونو سره يو ځاي شوېدي چې دغور له والي محترم مولوي عبدالرحمن حقاني سره دکتني په ترڅ کي داسلامي امارت دمخالفينو دمشرانو له جنايتونو او ظلمونوڅخه پرده پورته کړه اووېي ويل مونږ په هيواد کي دسراسري سولي او امنيت دتامين او ټينګښت غوښتونکي يو او داسلامي امارت دلورو هدفونو دتحقق او رښتيا ښي په خاطر هر راز سرښندني او ځان تېرېدني ته تيار يو او دافغانستان خلکو ته دخدمت په لاره کي له هيڅ راز هڅواو هاند څخه ډډه نه کوو دغو قوماندانانو دافغانستان داسلامي امارت له سوله ييزي تګ لاري او پاليسي سره خپل غوڅ ملاتړ څرګند کړ او وي ويل دمخالفينو مشران دنړيوال استکباراو دمغرضو ټولنو دګټو دتامينو لو په خاطر زموږ په هيواد کي په بې ځايه جګړه لاس پوري کوي او نه غواړي چې دافغانستان خلک دسولي اوآرامي په فضا کي ژوند وکړي او دافغانستان دخلکو دمقدس جهاد هدفونه تحقق ومومي دغوروالي محترم مولوي عبدالرحمن حقاني له اسلامي امارت سره ددغو قوماندانانو او دهغوي دافرادو دپيوستون له امله ښه راغلاست وواېه او داکار يې دغور ولايت په مربوطاتو کي دسولي او ثبات داعاده کولو او دخلکو دخيراو فلاح په لاره کي يو مثبت او رغنده اقدام وباله او هيله يې څرګنده کړه چې خپلو خلکو او اسلامي نظام ته دزياتو خدمتو نو جوګه شي دغو قوماندانانو ته دغور ولايت امنيه قوماندان محترم مولوي عبدالحق عصمت داستخباراتو درياست مرستيال محترم مولوي اختر محمد فردوسي او ددغه ولايت دملکي او نظامي ادارو يو شمېر چارواکو هرکلي ووايه .

ميکا ولنګ...

کي سي دمکا ولنګ ولسوالي دقيرانغان دغاړي پرتاميراو دکوهر ټيپي په بشپړه توګه داسلامي اردو دمجاهدينو ترکنترول لاندي راغلي په دغو عمليانوکي ددښمن دځونقليه وسايطو په ګډون يوه اندازه سپکي او درني وسلي او مهمات داسلامي اردو دمجاهدينو لاس ته ورغلي دي اوداسلامي اردو قطعات او جزوتامونه اوس په بشپړه توګه په حالاتو باندي واکمن دي دبامبان ولايت خلکو او په تيره بيا دېکا ولنګ ولسوالي او سيمي نکو داسلامي اردو دمجاهدينو له تصفيوي عملياتو سره خپل ملاتړ اعلام کړاو دظالماو وېنو ځپونکو مليشو له شتوالي څخه يي دخپلو سيمو دپاکولو په لاره کي داسلامي اردو له قطعاتو او جزوتامونو سره خپله صادقانه او مخلصانه همکاري څرګنده کړيده

دشمال زون...

مجاهدآخند او دبلخ ولايت دپنځم لمبرلوا دقوماندان محترم ملا احمد الله په ګډون جوړه شوه دملي دفاع وزارت لوي درستيز محترم ملا محمد فاضل آخند په اوسنيو نازکو شرايطو کي دهيواد دنظامي حالت په باب او ژ دي څرګندوني وکړي او داسلامي امارت دلورو هدفونو په رڼاکي يې دلوي خداي «ج» له درباره څخه دغونډي دبرخه والو چارواکو دزياتو بريالېتوبونو اودهيواد دپښتانه وخلکو ته دصادقانه خدمت هيله وکړه او دګډو هلو ځلو او داسلامي امارت داسلامي لاري دبشپړ تحقق په خاطر يې ګټوري سلا مشوري وکړي .

داروا...

دهرات والي محترم ملاخيرالله خيرخوا ، دهرات ولايت امنيه قوماندان محترم ملا عبدالحق يو شمېر علماي کرامو امارتي چارواکو دهرات ښارد شورا غړواوداروابناد په زرګونوتنو مينه ، والو ګډون کړي و برخه والو

دهرات ښار په سترجامع جومات کي دجنازي دلمانځه له اداکولو وروسته داالله اکبر په نارو او دتروريستي عملونو دغندلو په ترڅ کي جنازه دخواجه عبدالله انصاري قبر ته څېرمه ولېږدوله او خاورو ته يې وسپارله داروابناد دجنازي دښخولو په مراسموکي دشمال لوېديځ زون تنظيمه رئيس او دهرات والي محترم ملا خيرالله خيرخوا دبوي وينا په ترڅ کي ووېل . داروابناد کرم پورشهادت يوه ستره او نه جبيره کېدونکي ضايعه ده او دده شهادت يې دددښمن دتروريستي دسيمو نتيجه وبلله او داروابناد دجنازي دښخولو په مراسمو کي دبرخه والو دښو ولولو له امله يې قدرداني وکړه او دهغه پاتي کسانو ته يې دجميل صبر هيله وکړه دبو بل خبر له مخي داروابناد کرم پور دجنازي دوړلو ږمراسمو برخه والو دايران داهل سنت دمهاجرينو يو احتجاجلبک په هرات کي دملګرومليتو دسازمان دفتر ته وسپاره .

دما شوم ...

تصدي درياست لخوا پرمخ بيول کيږي دوفاموسسي په مالي او تخنيکي مرسته دپنځو سوزرو ډالر و په ټول لګښت په ځلورو مياشتوکي به بشپړاو داستفادي ووګرځي . دفوائدعامي وزير محترم مولوي احمدالله مطيع ، دعامي روغتيا وزارت معين محترم شېرمحمدعباس ستانکزي دکابل والي عبدالمنان نيازي دوفا موسسي مسوول محترم ابو مهار او دعامي وغتياوزارت يو شمېر چارواکو ددغه روغتون دوداني دجوړولو دکار بهير وکتوت او دچارودلازياتي چټکتيا په لاره کي يې مسو لينوته لازمي لارښووني وکړي.

کميسيون تحقيق ...

قطع برخورد ها ميان طرفين ناممکن خواهد بوددراين گزارش همچنان گفته شده است که اسرائيل نبايد در مقابل مجاهدين فلسطين اعتراض کننده از گلوله هاي سربي که پوش پلاستيکي دارند استفاده نمايند قرار است اين گزارش درمدت دوهفته آينده بصورت علني به نشر برسد کميسيون مذکور چهارماه قبل تشکيل شده است .

په چيچن کي

مقاومت ته زور ورکړي د روسيې دکورنيو چارووزير اعتراف کړيدي چي په چيچن کي د روسي پوځونو ترمنځ همکاري نشته خبرالان ځرګندوي چي د شوروي له ځلوريرخو څخه دري برخي خلک په چيچن کي دخپلو مشرانو سياستنا ناکامه بولي

اشغالګران ...

وتابودي صدها هزار اشجار ميباشد عبدالرزاق مدير امنيت اداره خود مختار فلسطين گفت نيروهاي اسرائيلي همچنان به محاصره وتجاوز به مناطق فلسطيني ها ادامه ميدهند اين تجاوز درحالي صورت ميگيرد که يك تن از اعضاي جهاد اسلامي فلسطيني درساحل غربي هدف گلوله اشغالگران قرار گرفته وجام شهادت نوشيد

درپلخمري...

شامل نه صد تخته لحاف صدجوره اليسه کمك موسسه اي اف او اچ بوده که به همکاري رياست شهد اومهاجرين ولايت بغلان براي يکهزار ودوصد فاميل بيجاشده که درشهر پلخمري به سرميبرند توزيع گرديد .

د پوهني وزارت ...

شوي ناستي غونډه کي چي په صوبه سرحد کي دمهشتو افغاني مهاجرينو دمدرسو څه دپاسه سلو تنو مدېرانواو دپېښور په ښارکي دافغانستان داسلامي امارت دقونسلګري يو شمېر چارواکو ګډون کړي و دمدرسو نوي تعليمي نصاب او دپوهني وزارت دمرکزي ادارو او دهېواد دولايتونو دپوهني درئيسانو دسيمينار تصميمونه او پرېکړي دپېښور په ښارکي دافغانستان داسلامي امارت دقونسلګري دتعليمي چارو داتشه محترم قاري عبدالولي صديقي لخوا بيان شوي او ټينګار وشو چي په دغو مدرسو کي دواحد تعليمي نصاب دنه تطبيق په صورت کي به دهغو دطالب العلمانو تعليمي سندونه داعتبار وړنه وي دغونډي په پاې کي ددغو مدرسو يو شمېر مديرانو دنورو په نمايندګي ژمنه وکړه چي دپوهني وزارت او دهيواد دولايتونو دپوهني درئيسانو دسيمينارله پرېکړو او تصميمونو سره سم خپلي تدريسي چاري تنظيموي او په اروند ومدرسو کي نوي تعليمي نصاب په بشپړه توګه تطبيقوي .

درولايت غزني ...

دانت ديروز درساحه نمايند گي ترانسپورت ولايت غزني به ضرب تفنگچه به قتل رسانيده وقاتل ميخواست فرار نمايد که حين فرار توسط موظفين قومانداني امنيه آن ولايت دستگير وبه پنجه قانون سپرده شد قضيه تحت تد قيق قراردارد .

توجه

درنو ګډون کوونکو!
که شريعت اوونيزه نه درسيږي او بيا ناوخته درسيږي نو په (۶۲۸۵۹) او (۶۲۸۶۷) شمېرو تيلفوني تماس ونيسئ.
اداره

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press